مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالستار ایوبي

۲۰۱۸/۱۰/۲۹

# انحصار مافیاوي کاپیټالیزم او کالونیالیزم

## لمړی برخه

د افغانستان سیاسي پیښو د امیر شاه زمان د واکه څخه د لیري کیدو راهیسي دایروي حرکت غوره کړی دئ. افغانان خپل ټولنیز ژوند د سینما پر پرده د یوه تکراري فلم په ډول ویني. هغه یو ډول سیاسي جفاوي او خیانتونه دي چې د ګوتو په شمیر بیداران یې د خپلو اکثریت غافله او وینده هیوادوالو سره تکراروي. د عاملینو او متاثرینو ځیري او نومونه بیل وي خو نور واقعات ټول تکراري وي. هغه افغانان چې د دې هیواد قانوني اوسیدونکي دي، ټول د دې هیواد د تابعت تذکرې لري او د دې هیواد اساسي قانون ته ژمن دي، دا مشترکات په منتقي ډول سره د دې مقتضي دي چې باید یو بل ته راست او خواخوږي و اوسیږي او یو بل ته په بنسټیزو حقوقو کې د مساواتو قایل و اوسیږي. د دې څخه علاوه نور مشترکات هم لري لکه دا چې د یوه واحد خدای وجود ته موعتقد دي، هغه واحد خدای (ج) چې د کائینات او مخلوقاتو خالق دئ چې دجزاء ورځ یې ټاکلې ده، جنت او دوزخ یې خلق کړي دي او پر خپل وروستي نبي ص یې قرآن عظیم الشان نازل کړئ دئ. افغانان په مجموع کې په قرآن عظیم الشان کې خدای تعالی (ج) ته منصوب ۹۹ اوصافو څخه هم انکاري نه دي او دا عقیده لري چې هغه سپیڅلئ ذات ج هر ګړی، هره لحظه دوئ څاري او د دوئ د کړنو حساب ساتي. دا هم مني چې د هغه سپیڅلي ذات ج لخوا نیول ډیر سخت دي، قهر یې شدید دئ . رحمان او رحیم دئ خو د دې تر څنګ عادل هم دئ باید داسي څه ونه کړو چې د خالق تعالی ج دعدالت (چې هیڅ شفاعت او واسطه نه قبلوي لکه په آیت الکرسي شریفه کي چې یې یادونه سوې ده) صفت موږ د هغه سپیڅلي ذات ج د رحمانیت او رحیمیت د صفتونو څخه د مستفید کیدو څخه محروم کړي. ددې تر څنګ د پښتونوالي لرغونئ قبیلوي قانون هم سته چې زموږ د ټولنیز ژوند چاري تنظیموي. نو ولي بیا هم یو د بل د شره څخه فارغ نه یو، زموږ کالخوایان زموږ د حقوقو د ساتني په عوض زموږ پر حقوقو باندي دلالي کوي. په ظاهره پر شونډانو باندي موسکا او په خوله کي غوړي او خوږي خبري خو یو او بل ته موږه زهرو لړلي نښترونه په لستوني کي پټ کړي وي. کله چې یو افغان راولاړ سي او دا بل په داسي زهر لړلي نښتر ووهي او هغه بل د پوهیدلو څخه وروسته مرګونئ وار پر وکړي نو د خلکو په وړاندي اصلي ظالم مظلوم معرفي کیږي چې ما خو محض یوه ستنه ورګه کړل ده ظالم زه په چاقو ووهلم. هغه بل دي بیا دا ثابتوي چې د نښتر څوکه په وژونکو زهرو لړلي وه. که مقابل جانب په یوه نه سي او فقط د ستني جګیدل یې وبولي نو ورته وبه وایي چې وروره دا ستن دي در خپله کړه. کله چې د دې زهرو په اثر مړ سي، نو قاتل د هر الزامه خلاص دئ چې تا نو اوریدلي وي چې د ستن په جګیدو دي څوک مړ سي. بل څوک که یې ومني، قاضي یې نه مني، خصوصاً هغه مهال چې بیا د قاتل لخوا سخاوتمندانه هدیې هم وررسیدلي وي. دا څه روان دي او ولي روان دي، عام خلک چې د دې لوبي پاخه لوبغاړي نه دي ورته حیران دي. د خپلو ښځو ماشومانو، خپلوانو او ګاونډیانو غوښي او هډوکي راټولوي، په شرعي طریقه یې تکفین او تدفین کوي. بیا جزاء د ورځي راتګ ته انتظار باسي (چې په وقوع کې یې د ذرې د مثقال په اندازه هم شبهه نسته) څو پوه سي چې دوئ ولي ووژل سول او اصل قاتلین یې څوک وه. پیښي ټول یو ډول پیښي دي لکه ځانمرګي، د دولتي افرادو ترور او وژنه د غیر دولتي او غیر رسمي وسلوالو لخوا، د ولسي وګړو وژنه د دولتي او د هغوئ بهرني سرپرستانو لخوا د ولسي او دولت ضد افرادو وژنه، په ښارونو کي چاودني، مرموزه وژني، په دښتو کي د قاچاقکبرانو او غلو ظلمونه، په کلیو کي د ملکانو ملایانو ظلمونه، په ښارونو کي د دولتي چارواکو ظلم او اداري فساد چې په مختلفو زماني او مکاني مقطعو کي پیښیږي. هره آدرس لرونکي مرجع چې په ښکاره ډول په یو شمیر داسي پیښو کي ښکیل وي یا یې مسئول وي، دا اصلاً مني نه چې دا پیښه باید نه وای را مینځ ته سوې، بلکه عذر وړاندي کوي یا دلیل وایي چې دوئ خو د کفارو لاسپوڅي وه یا دا چې دا د طالبانو ښځې او ماشومان وه د دوئ وژنو جواز درلود. که سم ځراغ راواخلو او د قاتل پلونه د پلزن په مټ تعقیب کړو نو د پلزن راپور نور هم هینونکئ وي. هغه دا پلونه بیرته و مقتولینو او د هغوئ ویر کونکو اولیاوو ته منصوبوي. دا لوبه چې زموږ د تیر ملي ټولنیز ژوند زرهاوو کلونو زیادتره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مقطع په بر کي نيسي اوس هم زموږ لپاره يوه معما ده. بهرني يرغل ګر راځي، د يوه معمولي مقاومت وروسته هيواد اشغالوي. بيا د اشغالګرو په وړاندي ملي مبارزه پيليږي چي په درشل کي يې زموږ د سوو څخه نيولې بيا د زرهاو، لکهاوو او مليونونو پوري ځوانان، ماشومان، ښځي او سپينږري وژل کيږي، کلي ورانيږي خلګ بيځايه کيږي. بيا چې هغه اشغالګر ولاړ سي د فاسدانو ظالمانه وکمني وي ترڅو بيا بل اشغالګر راځي او ډرامه د سره پيل سي. که څه هم د نړۍ زيادتري بشري ټولني په ورته ناورين اخته دي لکه فلسطين، سوريه، عراق، ليبيا، افريقايي هيوادونه او داسي نور خو داسي بشري ټولني هم سته چي انسانان خو پريږده، مرغانو، حيوانانو او نباتاتو ته يې څوک د سترګو پورته نسي کتلای. کله چې د دوئ اوريځي او مرغان زموږ په فضاء کي تيريږي په بده سترګه نه سو ورته کتلای. د دوئ اوبه چې زموږ د غرونو په څوکو کي د يخي د ويلي کيدو څخه وروسته زموږ په سيندونو کي تيريږي لا لاس نه سو وروړلای. او نور بيا پر موږ باندي دومره حقداره سول چې زموږ په وطنو کي زموږ کلي راهواروي، ټولني مو د يوه مخه را قتل عاموي پر ضد يې د ږغ پورته کولو حق نلرو ځکه چې يو کاغذ راښکاره کوي چې زموږ قانوني کالخوايانو اجازه پکښي ورکړې وي چې هر څه راسره کوي حق لري. کله چې خپلو دې کالخوايانو ته د معلوماتو لپاره ورځو بيا وينو چې پر محلاتو باندي يې زموږ قاتلينو د خپلو بهرني و داخلي اجيرانو پيره درولې وي او د دوئ په خوله راته وايي چې د ليدلو وخت نه لرو. د دې لپاره چې په خپل هيواد کي د دې رواني دلچسپي لوبې په سر او بر باندي پوه سو نو بايد څو اصطلاحات او د هغوئ لنډ تعريف زده کړو. که څه هم دا لوبه زموږ پر سرونو باندي روانه ده خو که يې په اصولو پوه سو، شايد تر يوې اندازې د دفعي اسباب ولرو او که يې په سر او بر يې پوه سو نو لږ تر لږه ساعت خوبه مو په تير وي. هغسي هم موږ پر ساعت تيري باندي د بل هر شي زيات مين يو. اکثره مو د ساعت تيري لپاره خپل د ژوند مهمتريني چاري شا ته غورزولي وي لکه د کرکټ احمقانه لوبه چې يې يو ژوندی مثال دئ او نور مثالونه يې د ځوانو ښځو او هلکانو نڅول دي، غزلو او موزيک ته غوږ نيول دي او نور داسي څه چې د جهنم اور په پيسو رانيسو چې ساعت مو په تير سي. که څوک دا اصطلاحات په دې متن کي راغلو تعريفونو بهتره تعريفولای سي، مهرباني دي وکړي، څو زموږ غلط معلومات هم راته اصلاح سوي وي.د دې مطلب عمده ترين هدف په افغانستان کي د نظامونو د اصلاح پر ځای د نظامونو د سريع بدلونونو علت روښانه کول دي. ويل کيږي چې د تداوي لمړنۍ مرحله د مريض لخوا د مرض احساس دئ، دوهمه مرحله يې تشخيص، دريمه مرحله يې د تداوي پلان او څلورمه مرحله يې تداوي ده. دا چې ولي موږ په مرض پوه سو نو طبيب زموږ د معينې او تشخيص پرته سيرومونه، شربتان، پيچکارئ او ګولئ راته بندي کړي چې دا مو علاج دي بايد لاندي اسطلاحوي وپيژنو.

لمړۍ اصطلاح د انحصار ده.د انحصار په مفهوم باندي د ښه پوهيلو لپاره که ثروت په نظر کي ونيسو. يو شخص طبعاً دا حق لري چې زيار وباسي، اوږده سفرونه وکړي او د نړۍ د جغرافيې د يوې نقطې څخه داسي شی رانيسي چې هغه هلته پريمانه او ارزانه وي او د همدې نړۍ په بله برخه کي يې په داسي نقطه کي وپلوري چې هلته هغه شی کاخت او ګران وي او په دې ډول زيات ثروت لاس ته راوړي. الله تعالی ج د ده په جمع کړل سوي مال کي يوه محدوده اندازه ځان ته بيله کړې ده چې بايد محرومو او مستحقو ته يې ورکړي، نور مال د ځان په ګټه کارولای سي او خپل اولاد ته يې په ميراث پريښودلای سي. لاکن که يو شخص د خپل جمع کړل سوي ثروت يوه برخه په داسي ډول وکاروي چې د ځان په شان استعداد لرونکو تحرکيت محدود کړي څو دده په شان د ليري سفرونو د لاري ثروت پيدا کولو هڅي يې ورشنډې کړي نو دې ته انحصار وايي چې يوازې دی يا دده اولاد يا داسي څوک چې دده خوښه وي هغه دده و کسب يا مسلک ته لاس واچوي (لکه د رسول الله مبارک ص د بعثت څخه وړاندي چې قريشو دا کار کاوه). په انحصار کي د خدمت د عرضه کولوسالم رقابت دبينه ځي، د خدماتو کيفيت د خرابيدو او بيعه د ګرانيدو تر څنګ د نورو انسانانو شخصي او ټولنيزه خپلواکۍ د سلب کيدو خطر هم ورسره رامينځ ته کيږي. کار هغه مهال نور پسي خرابيږي چې کله انحصار سوئ خدمت د تجربه کار او خواريکښه سلف څخه و استراحت طلبه، لټ او بې‌تجربې خلف ته په ميراث ورپاته سي. دلته به يوڅوک ووايي چې انحصار تل نه سي ساتل کيدلای بلکه لټ، عياش او بې‌تجربې خلف به دا هر څه دلاسه ورکړي او يو بل خواريکښه، تجربه کاره او قابل شخص به دا خدمت په لاس کي واخلي او په دې ډول به بيرته سالم رقابت ته زمينه برابره سي. په حقيقت کي داسي نه ده. که يو تاجر، سياسي رهبر، مذهبي رهبر، عالم يا کسبکاره د انحصار هڅه ونه کړي او خپل کمال او خدمت روزنه و ټولو هغو زده کونکو ته انتقال کړي نو داغسي به وسي (لکه د بني ص سنت چې دئ). اما که دئ دا خواهش ولري چې دده وروسته دده مقام و يوه مشخص خلف ته ورسيږي نو بيا دئ د سالم رقابت د بينه وړلو لپاره يو شمير پټو او مخفي غير اخلاقي کړنو ته لاس اچوي څو د طبيعت عادت ته تغير ورکړي او اوبه يې د ټيټي نقطې څخه مخ په لوړه وخيژي. که څه هم ددې هرڅه سربيره ناهله خلف به هغه واک، امتيازات او پاخه عوايد دلاسه ورکړي خو، نه د ټولني و يوه وړ کس ته بلکه د لټو، ټمبلو، ذولخوړو او بې هميته خلګو يوې اجتماع ته چې مافيا ورته ويلای سو. مافيا نه يوازې دا چې د انحصار د حلقې پيلونکي سلف د ناقابله اخلافو څخه هغه څه اخلي چې انحصار سوي وه، بلکه دا اخلاف په ډيره ظالمانه توګه د بينه هم وړي. زموږ د ټولني د بدبختي يو عمده اړخ د انحصار ميلان دئ چې د ټولني په غالب اکثريت کي پيدا سوئ دئ. دلته بايد ووايو چې پر خدای پاک ج، پر ورځ د جزاء او جنت و دوږخ په موجوديت باندي باور لرونکي



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

(حد اقل چې دا باور د یوه ګمان په اندازه هم وي) هیڅ کله د سیاسي، مذهبي، کسبي او علمي انحصار تصمیم نه نیسي، ځکه چې دا عقاید دئ طوعاً او کرهاً د دې کاره څخه منع کوي. که موږ یو انحصار کونکئ ووینو چې لمونځ کوي، د الله تعا لی ج په لاره کې ذکات او خیرات ورکوي نو باید د ګینیز بوک آف ریکارډ اداره په خبره کړو چې د نړۍ اتمه عجایبه مې کشف کړې ده ځکه دا همداسي دئ لکه زمرى چې په وښو ځان مړوي، یا هوسۍ په داسي حال کي ووینو چې غوښي خوري. اول خو امکان نلري او که امکان ولري نو حتماً د دید خطا ده یا یوه ساینسي معجزه ده چې ددې ښکارندويي کوي چې د هوسۍ په هضمي نظام کي د پروټینو او شحمو د هضم و جزب غدوات پیدا سوي دي یا دا چې د زمري په هضمي جهاز کي د سیلولوز د هضم او جزب صلاحیت پیدا سوئ دئ. په لمړي نظر کي به دا مثال یو څه غیر حقیقي ښکاره سي خو که مو باور نه راځي د اعصبي عقلي متخصص ډاکټر څخه پوښتنه وکړئ چې داسي شخص سره څه وکړو چې عمل او وینا یې د عقایدو سره مناسبت ونه لري. فوراً به درته ووایي چې دا شخص و مرستون ته داخل کړئ چې په اجتماع کي یې ژوند ته سخت خطر متوجه دئ. داسي کس ځان ددایمي موجودو خطراتو څخه نه سي ساتلاى. ځکه کیداى سي د احمد شاه ابدالي ۳۰۳ بس مخي ته ځان نابېره ورواچوي یا دا چې د ګني د جوس ماشین ته لاس وردننه کړي او یا داسي ۲۲۰ ولټه جریان لرونکي برق لوڅ لین به په خوله کي ونیسي.د افغانستان په ټولنه کي د سیاسي، مذهبي او سرمایه داري موقفونو انحصار ددې ټولني د رواني بدبختي عمده علت تشکیلوي. په هر تحول کي چې کوم شخص، قوم یا کورنۍ واک ته رسیدلي دي. ددې واک د انحصار لپاره یې د اولس د ضعیفه کولو هڅه کړې ده څو ورته تسلیم پاته سي. چې دا اولسي ضعف د هیواد د ضعف سبب سوئ دئ او بهرنیانو ته د مداخلې زمینه برابره سوې ده. کله چې بهرنیانو د ولس د مریي کولو وروسته ظالمانه شرایط پر تحمیل کړي دي، نو زموږ لټو مګر حریصو هیوادوالو پاځون ورته کړئ دئ او د نورو داسي بهرنیانو څخه یې مرسته منلې ده چې آناً یې دوئ ته باج منلئ او ددوئ خپلواکي په رسمیت پیژندلې وي خو اصلاً غواړي چې دا ظاهراً بیسرپرسته سیمه ځان ته خپله کړي. دا حلقه اوس هم د تکرار په حال کي ده چې زموږ ژوندونه راکړوي. هر ابرقدرت لمړی د باج دلاري زموږ مشران خپلوي بیا، د هغوئ کشران د ځان په جاسوسي ګماري. بیا زموږ خپلواکي سلبوي او ډیر زیات باج راڅخه غواړي.

دوهمه اصطلاح د مافیاء ده. مافیا د هغه افرادو مجموعې ته ویل کیږي چې موږ د سلطان محمود لټان ورته وایو. دوئ د خپلي لټي او استراحت طلبي له سببهنه غواړي چې زیاتي خوارئ او زحمتونه وګالي. دوئ پرته د کوم دلیله د ټولني څخه فوق العاده امتیازاتو غوښتونکي وي. دوئ ځانونه تر نورو مهم بولي خو خپله هم نه پوهیږي چې ولي تر نورو مهم دي؟ چون په ټولنه کي د لټانو لپاره د خیر و خیرات، زړو جامو او ددسترخوان د خیرو پرته بل څه نسته نو دوئ د زورورو، سروتمندانو او نورو هغو کامیابه افرادو سره د بیدلیله او بیمنطقه میني تظاهر کوي او ددې میني د اثبات لپاره تر دې حده ورته ټیټیږي چې یو خپلواک شخص یې تصور هم نه سي کولاى. دوئ د هغه شخص د شوق په نقطه پسي ګرزي او ځانونه د هغه شي قدردانه ورته معرفي کوي چې د هغه شخص خوښیږي. په لنډه دا چې په داوطلبانه ډول ځانونه د هغه مریان ګرزوي. دا یوه طبعي خبره ده چې کله یو شخص په ژوند کي قدرت او سروت لاس ته راوړي نو بیا دا نه خوښوي چې هغه انسانان د ځان سره برابر احساس کړي چې دده په اندازه قدرت او سروت نلري. دئ داسي خلګ خوښوي چې تر ده پوري ځانونه په هیڅ شمار کړي. د ټولني لټان او ټمبلان د الله تعا لی ج لخوا ورکړل سوي استعدادونه د ربج د رضایت او د ټولني د فلاح په عوض د وخت د څواکمن او سروتمند د غرور او ځانځاني د خړوبولو لپاره په کار اچوي. کله چې هغه شخص داوطلبه مریان ومومي چې اصلاً یې ده ته نه بلکه دده واک او سروت ته غاړه ایښې وي نو پر دوئ تکیه کوي چې د ټولني نور وګړي هم د ځان په شان کړي او پر ټولنه باندي د خپل انحصار د حلقې را ټینګولو لپاره دوئ د ځان ملګري کوي او په دې ډول دوئ دده د ټولو مخفي جنایي زارونو ملګري سي. هغه رازونه چې اکثراً دئ یې د خپل اولاد څخه هم پټوي او اولاد ته فقط خپل مال او موقف په میراث کي پرېږدي. دده د جرم ملګري چې دداسي مارانو او لړمانو په شان دي چې فقط دده سره یې د زهرو هده موجوده وي دده دمرګ وروسته دده پر بیخبره او نا اهله خلف او وارث باندي راتوليږي. هغه چې تل یې خپل پلار په دې رنګینو مارانو او لړمانو باندي د لوبو کولو په حال کي لیدلئ وي، دا فکر کوي چې دا لړمان او ماران اصلاً د لوبو لپاره پیدا دي، نه پوهیږي چې دا لوبي به دده په مرګ پاى ته ورسیږي. ددې پورته استدلال ژوندۍ بیلګه د نادرشاه څخه نیولې بیا د سردار محمد داود خان واکمني ده. هغه کورنیاني چې د نادر خان سره په وفاداري ودریدلې، دده لپاره یې دده سیالان او حریفانپه توپونو والوزول، دده او دده د کورنۍ د واک د مشروعیت لپاره یې پر خداى تعا لی ج باندي درواغ وتړل، دده او دده د اولادونو لاس رسی یې د خپلو ښځو تر عصمتونو پوري اوږد کړ، هغوئ وه چې وروسته د روسانو سره ودریدل او په کابل کي پاته دده د کورنۍ ټول غړي په هغسي په بیرحمي سره ووژل، لکه په څومره بیرحمي سره چې یې یووخت ددې کورنۍ د واک مخالفین وژلي وه. مافیاوي په مختلوفو سویو باندي پیدا کیږي او ماهیت یې هغه دئ لکه پورته چې تشریح سو یعني غوړمال او بیظرفیته خلګ چې د ټولني معنوي ارزښتونو څخه لاپرواه وي او تش په ظاهره یې کاذبه پالنه کوي. نه یوازي په افغانستان کي بلکه په ټوله نړۍ کي ټولنیز فسادونه د انحصارګرو او مافیاوو د لاسه پیښیږي. دوئ په هره ټولنه کي و فعاله مشروع نظامونو ته موازي مخفي نامشروع نظامونه جوړ کړي دي لکه د بشر په وجود کي چې سرطاني حجرات د رګونو او اوعیو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سیستم تشکیلوي. په حقیقت کي سرطاني حجرات کټ مټ د مافیایي افرادو سره مشابهت لري. په وجود کي د یو شمیر حجراتو (لکه عصبي او قلبي حجرات) پرته ټول عادي حجرات لنډ ژوند لري او سم دلاسه تکثیر کوي. کله چې یې په فعالیت کي کمښت یا نقص راځي نو د وجود د دفاعي سیستم په وسیله د بینه وړل کیږي ځو نوي ځوان فعاله حجرات ددوئ ځای ونیسي. سرطاني حجرات نه یوازي دا چې اوږده عمرونه لري او ددفاعي سیستم په واسطه د بینه نه ځي بلکه د ویني جریان ته په خپل سر د رګونو او اوعیو شبکي غزوي چې زیاته غذا او اکسیجن لاس ته راوړي پرته ددې چې وجود ته کوم ګټمن فعالیت اجراء کړي. دوئ په سرعت سره تکثیر هم کوي. مافیایي کورنیاني هم د سیاسي او نظامي تحولاتو په نتیجه کي خپل سیاسي او اقتصادي سلطې ته ادامه ورکوي. ښه بیلګه یې بیا هم افغانستان دئ. د کمونیستانو، ټوپکیانو، طالبانو او اوس بیا د ډیموکراټانو رژیمونه سره راغله او ولاړل. واکمنان او د هغوئ کورنۍ تپ سوې خو د کابل او د هغه شاوخوا ورکوټو ولایاتو باندي حاکمي مافیایي کورنۍ هغسي په برم سره خپل نفوذ ته ادامه ورکوي. افغانستان ددرو نړیوالو امپراتوریو تر مینځ لاس په لاس سو خو دا محترمین لکه ونه مستقل پر خپل قیام دي که روس باندي راسي که امریکا.
دا چې په افغانستان کي سیاسي خلاء موجوده ده او د ګاونډیو هیوادونو ددولتونو طمع هم نه ځني خیژي او دې سیمي ته رارسیدونکئ هر نړیوال ابرقدرت په اتوماتیکه توګه افغانستان خپل د نفوذ په ساحه کي داخلوي ملامت ځکه نه دي چې افغانستان د خپل ملت او ټولیزو ساختارونو لکه د ښاورونو او کلیو د موثره دفاع هیڅ اسباب نلري. دا ځکه چې ددې هیواد اوسیدونکو قومونو او قبایلو په ټولنیز ډول هیڅ کله داسي اراده نه ده لرلې چې د ملت او هیواد د مشترکو معنویاتو، حقوقو، سروتونو اوپه نړیوال سیاسي محیطکي خپلو ملي ستراتیژیکو ګټو د خوندیتوب لپاره متخصص ځواکونه رامینځ ته کړي او هغه وروزي. دا ځکه چې دوئ په دې شیانو نه پوهیږي. چا دا څه ورښولي نه دي. حاجي مرویس خان هوتک او لوی احمدشاه بابا د مشري لاندي یوه ډله با احساسه افغانانو چې داسي هڅي وکړې، هغه ځکه موقتي ثابتي سوې چې زموږ قومي، سیاسي او مذهبي مشرانوته تل د پردیو ملتونو د حکومتونو په نیابت پر خپل اولس باندي د زور حکومت کول زیات خوند ورکوي په عوض ددې چې د یوه خپلواک ملت په چوپړ کي د مسئولیتونو او قربانیو څخه ډک ژوند ولري. په دې نړۍ کي ځناور درې ډوله ژوند لري. یو په دښتونو، غرونو او بیابانونو کي خپلواک ژوند چې تکلیفي دئ او د پایښت لپاره د وړکتوب څخه لا شاقه د ښکار او دفاع تکتیکونه د خپلي مور څخه زده کوي. دوهم په نیشنل پارکونو کي نیمه خپلواک ژوند دئ چې په محدوده ازادي یو نسبتاً مسترح ژوند. دریم په ژوبڼ کي په قفسونو کي ژوند دئ چې خواړه وررسیږي ددې لپاره چې ژوندي وي او ژوندي ددې لپاره وي چې د انسانانو ساعت ورتیر کړي او د ژوبڼ اداري ته عواید وګټي. که د ملتونو استقلال په ورته درې ډوله وویشو نو زموږ د ملي استقلال او خود کفالت حالت د ژوبڼ د ځناورو په شان دئ. موږ تش په نامه د نړۍ پر نقشه یو مستقل هیواد یو او په ملګرو ملتونو کي یو درې رنګه بیرغ لرو. کله چې زموږ ملي رهبر په سیمه کي ښکیل د کوم ابر قدرت سره زموږ د ملي استقلال او ملي منافعو پر سر خبره کوي نو د هغه دولت واکمن حقارت آمیزه سلوک ورسره کوي، دا ځکه چې دده په ناخبري کي دده د حکومت جګپوړي چارواکو، د ملت سیاسي او مذهبي متنفذینو وختي لا د هغه ابرقدرت د استخباراتي دستګاه د معاشخوره جاسوسانو په لیست کي خپل نومونه لیکلي وي. هغه د ابر قدرت هیواد واکمن خوارکی نو په دې څه خبر دئ چې دا سیاسي فاحشې دده د حکومت په شان درې او څلور سیاسي میړونه نور هم لري او دا چې د خپلو پیرویانو په استاذیتوب چې کوم معاش دده د استخباراتو څخه اخلي هغه ټول خپل جیب ته اچوي، خپل پیرویان یې پرې خبر کړي هم نه دي، هغوئ تش په خبرو غولوي. د امریکا سره زموږ د دولت ستراتیژک تړون که د بیلګي په توګه راواخلو، نو پخواني ولس مشر حامد کرزي د افغانستان ټول متنفذین وروغوښتل او ددې تړون عواقب یې ورته بیان کړل. هغه مهال هغوئ ټول پوهیدل چې څه پیښیدونکي دي. دا چې هغوئ یوخو د لمړي درجې لټان او ډارنان وه دوهم دا چې امریکایانو یې شخصي ګټي ورخوندي کړې وې او پر ګوته یې کشمیر ورته جوړ کړئ وو نو پر کرزي یې ټینګار کاوه چې امضاء یې کړه، هیڅ ټکه نه لویږي. کرزی صاحب چې په هیواد کي د نوم او دنښان سړی و خبر وو چې د تړون د امضاء وروسته په واک کي پاته کیدل به ډیر زیات شرمناکه وي نو د واک څخه لاس په سر کیدل یې خوښ کړل چې نړیوالو ددې کار هم لوړه صله ورکړل. د کابل مرکزي میدان هوایي یې دده په نوم کړ څو ورته وښیي چې په دې هیواد کي عزت او ذلت ورکول هم ددوئ په لاس کي دي نو ځکه د افغان واکمن لپاره ددوئ د حکم په تعمیل کي د افغان اولس په وړاندي د شرم احساس کول یو بیمعنا کار دئ. اوسني ولس مشر دا سبق زده کړ او دادئ تړون یې هم امضاء کړ. د تړون عواقب هم افغانانو ولیدل او نوش یې کړل، دی هغه دئ اوس هم اولس مشر دئ، راتلونکې دوره هم خپله بولي څه یې کم سول؟ نوش جان!
زموږ دریمه اصطلاح دکاپیټالیزمده هغه دا چې کله د انحصار کونکو او مافیاوو تر مینځ اوږدمهاله همکاري مینځ ته راسي نو کاپیټالیزم رامینځ ته کیږي چې پرمختللئ تمدن (Advanced civilization)په شکل تظاهر کوي. د نن ورځي ټول ستر قدرتونه د همدې ډول بیلګه دي. دا حالت هغه مهال رامینځ ته کیږي کله چې انحصار کونکي بالخصوص د سیاست انحصار کونکي خپل دې کرغیړن عمل ته علمي بڼه ورکړي او خپل وارثین په دې فن کي وروزي. دا ډول انحصار کونکي د خپلو اولادونو د روزني په نصاب کي د لمړي ورځي څخه مشترک ټولنیز اخلاقي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او معنوي ارزښتونه حذف کوي. دوئ په خپلو اولادونو کي پرته د کوم دليله ځان ته د عظمت منسوبولو روحيه پيدا کوي او د مافياوو د اداره کولو هنر ورښيي. داسي سياسي انحصار کونکي خپل راتلونکي نسل ته دا ورښيي چي مافياوي وساته څو د ټولني د رګونو څخه وينه درته زبيښي او په عين حال کي د ټولني د استفادي وړ عادي اکثريت وګړي هم په معنوي رشوتونو اموخته کړه څو تاسو ته د هغوئ مستقيم د وفاداري اړيکه هم موجوده وي. کامياب انحصار کونکي هغه دي چي پر ټولنه باندي د غلبه کولو لپاره پياوړي مافياوي تشکيل کړي او د هغه سره په ګډه د ټولني معنوي ارزښتونه په بشپړ ډول د بينه يوسي څو د ټولني عام وګړي د کاپيټاليزم پر ضد قيام ونه کړي او په عين زمان کي د يو لړ کاذبو ارزښتونو په وسيله د مافيا د استحصال لاندي ټولني افرادو په وړاندي هم خپل مشروعيت ثابت وساتي څو د مافياو د زهرو غاښونه يي هم ايستلي وي او د ښامار چيچيان پر خپل معنوي پلار باندي غورزی ونه کړي. مافياوي هغه مهال د انحصارکونکو اشخاصو او کورنيو په محوه کولو باندي بريالئ کيږي کله چي د حاکم او محکوم تر مينځ خلاء بشپړ اشغال کړي او ددې دوو طبقاتو تر مينځ د تفاهم ټولي ليکي منقطع سي. بيا نو مافياوي د يوې خوا د ټولني عام وګړي د خپلي بشپړ سلطي لاندي راولي او دمشترک فساد ټول الزام پر انحصار کونکو افرادو يا کورنيو اچوي او د کاذبو انقلاباتو په زريعه هغوئ د بينه وړي او هر څه په خپل لاس کي نيسي چي په نتيجه کي يا لاسپوڅي رهبران واک ته رسيږي يا مطلق فساد مينځ ته راځي. د لاسپوڅي رهبرانو واک ته رسيدل د مافياوو نظام ته موقتي دوام ورکولای سي خو په ډير يا لږ ځنډ به مطلق فساد ته لاره هواريږي چي د پرمختللي تمدن (advance civilization)کامل محوه کيدو باعث کيږي. د اسلام څخه وړاندي د يونان، روم او فارس د تمدنونو محوه کيدل يي ښه مثالونه دي. په اسلامي تاريخ کي د امويانو په وړاندي د عباسيانو انقلاب چي ابو مسلم خراساني د يوې مهرې په ډول وکارول سو يو روښانه مثال دئ. په غير اسلامي ټولنو کي د فرانسي انقلاب، د روسيي د بالشويک انقلاب يي هم مهمي بيلګي دي. کاذب انقلابونه د ټولني هغه ستونځي دبينه نه وړي چي دا انقلاب يي پلمه جوړه سوي وي بلکه د يوې لنډي وقفي وروسته هغه ستونځي نور هم په شدت سره د لا زيات وخت پورى عودت کوي. د مافياوو مثال داسي دئ لکه يو څوک چي چغال د سپي پر ځای وساتي څو د همسايګانو چرګان په وخوري. کله چيد ګاونډيو چرګي خلاصي سي نو بيا د خپل کور چرګي هم خوري، ځکه چي د همسايه د چرګانو تر غلا د غافل مالک د چرګانو غلا ډير اسانه کار دئ. کله چي انحصار کونکي د انحصار هنر ته علمي بڼه ورکړي او د مافياوو د کيزه کولو په هنر کي ښه ماهر سي بيا نو ددې فرد يا ډلي څخه د بشري ټولنو ښکاريان جوړيږي او د نړۍ د نيولو حرص پکښي پيدا کيږي. د بشريت تاريخ شاهد دئ چي هيڅ انحصار ګر نه دئ توانيدلئ چي تل تر تله يي خپله مافيا مهار ساتلي وي او ځان يي نه وي په خوړلئ. لکه مخکي چي وويل سول چي د يوې ټولني د اداره کولو لپاره مافيا د هم هغه ټولني د لټانو، ټمبلانو او بيغيرته افرادو څخه تشکليږي. هغوئ چي د ټول ژوند د فکري زيار محصول يي داغه وي چي څنګه د ټولني خواريکښه غړو د غفلت او ناپوهي څخه ګټه پورته کړي او د هغوئ په خواريو ګټل سوي عوايد ځان ته راکش کړي. دولتي دستګاه ددې کار ښه وسيله ده خو د اهل و قابله طبعي رهبرانو د مخي څخه ليري کولو لپاره بهرني قوت ته اړتيا لري او دا قوت يو کاپيټاليسټ حکومت دوئ ته ورکوي.په دې ډول بهرني عواملو ته په يوه خپلواکه ټولنه کيد مداخلي زمينه برابريږي.

څلورمه اصطلاح د کالونياليزم ده. کله چي يو کاپيټاليسټ ځواک د يوې خپلواکي بشري ټولني د داخلي انحصار کونکو او مافياوو د فعاليت په نتيجه کي رامينځ ته سوي ضعف او يا د خپل استخباراتي فعاليت په نتيجه کي ضعف څخه په استفاده هغه ټولنه د يوه قوي يرغل يا د يرغلونو پرله پسي څپو په نيتجه کي اشغال کړي او هلته خپلي کالونياني رامينځ ته کوي، ودې ته کالونياليزم يا کالونايزيشن ويل کيږي. کالوني هغه ښاري ټولنه ده چي د خپل چاپيريال د کليوالي يا دښتي بشري ټولنو سره مادي او معنوي اړيکي نلري اود بهر څخه په زوره راغلو اشغالګرو او د هغوئ د اجيرانو لخوا تقويه کيږي لکه د اسرائيل ټولنه. دروم ښار تاسيس دداسي ټولني يو لرغونئ مثال دئ. دا ښآري ټولنه د يوې پراخي بشري وطني ټولني د منابعود ځبيښاک لپاره رامينځ ته سوي وي نو ځکه ددې ښاري ټولني د غړو سلوک د خپل چاپيريال د کليوالي ټولنو د افرادو په مقابل کي تل خصومت آميزه وي او هيڅ کله يي وينه نه ورسره ګډيږي او تل په دې فکر کي چي د خپل چاپيريال د کليوالي بشري ټولنوافراد څنګه په خپله ګټه وکاروي. د کالوني اوسيدونکي د خپلي مصنوعي ټولني د بقاء لپاره تل هڅه کوي چي د چاپيريالي ټولنو غړي په خپل مينځ کي په شخړو اخته وي، د ليک لوست علم او پوهي څخه ليري وي او تل بيوزله او غريب وي. ددې کالونياليستي ټولني د غړو د مختلفو طبقاتو تر مينځ اړيکي د قرارداد ورکونکي او قراردادي وي چي ټول نظم و نسق يي پر مادياتو باندي ولاړ وي. د يوې خپلواکي ټولني معنوي ارزښتونومجموعه د هغه ټولني د دود، کلتور يا ثقافت بلل کيږي. دا معنوي ارزښتونه د هغه ټولني د دين لخوا تعين او تثبيت کيږي. د بيلګي په توګه اسلام چي د بشريت لپاره د بشريت د خالق ج لخوا راليږل سوئ دئ ددې نړۍ تر ټولو قوي بشري ارزښتونو د ترويج سرچينه ده. د پښتونوالي قبيلوي قانون دهمدې سپيڅلي دين د بنسټيزو اصولو څخه مشتق سوئ دئ (که څه هم پاچا خاني نيشنليان ددې خبري متضاده دعوه لري چي دادعوه يي کوم علمي بنسټ نلري). کله چي يوه خپلواکه بشري ټولنه د يوه کاپيټاليسټ نظام مستعمره وګرځي نو بيا ددې ټولني د منابعو د موثره ځبيښاک لپاره هلته په مهمو ستراتيژيکو موقعيتونو باندي نوري فرعي کالونياني تشکيلوي. دوئ د هغه ټولني پاته سوچه معنوي ارزښتونه د بينه وړلو او د منابعو د استخراج د چينلونو د ايجاد لپاره


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

ځايي مافياوي تشکيلوي، هغوئ پياوړي کوي او د هغوئ څخه کار اخلي (البته د کالونۍ څخه بهر) څو د ټولني د وګړو ټولي خپلمينځي اړيکي سره وشليږي او د خپلو ملکيتونو د چور مخه ونه سي نيولای. دوئ که د ريګ د ذراتو په شان زيات هم سي خو تل به يو له بله داغسي بيل وي لکه د ريګ ذرات. دا ځکه چې کاپيټاليزم او کالونياليزم د ډبرو د ذراتو څخه خار خوري چې يو له بله سره دومره په قوت وصل وي چې ستر ستر غرونه ځني تشکيل سوي وي. سيلونه او طوفانونه اړباسي چې خپل جهت ته تغير ورکړي په عوض ددې چې دوئ د مخه ليري کړای سي. کالونياليسټان تل د کالوني د چارو د پرمختګ لپاره د هغه ټولني خلګ نه استخداموي بلکه د بهر څخه تيار خواره او مفت خواره پيدا کوي، د پستي خواري زمينه ورته برابروي او د کالونيو د خدمتګارانو کار ځني اخلي. د کالونيو بهرني خدمتګاران هوسا ځکه وي چې د ستړيا زور يې هم پر محکومو ټولنو باندي وي او د مزدوري مصرف يې هم د هغوئ د شکول سوو منابعو څخه لاس ته راځي. دا ددې لپاره چې د بل ځايه څخه راوستل سوي انسانان د هغه ځای د ملکيت رينتونئ احساس نلري او د ځايي انسانانو سره شريک معنويات نلري. دوئ داسي وي لکه د ګلدانی بوټی چې د خړوبيدو لپاره تل د ساتونکي ګدوې ته اړ وي. معنوي ارزښتونه د بشري ټولنيز ژوند مهمه برخه تشکيلوي، څو د ټولني د غړو په عمومي سلوک کي هم آهنګي موجوده وي چې يو د بل په وړاندي د صميميت، اخلاص او ملاتړ روحيه ژوندی وساتي. ددې ارزښتونو د پالني په سبب رينتنئ او کاذب ملګرئ پيژندل کيدای سي. که معنوي ارزښتونه په مينځ کي موجود نه وي نو دوه انسانان اوږدمهاله ګډ ژوند خو پريږده د دوو دقيقو لپاره يو بل ته نيژدې هم نه سي دريدلای. د کاپيټاليسټانو لخو د اشغال سوي ټولني د وګړو تر مينځ د نظم برقرار ساتلو لپاره يو لړ کاذب ارزښتونه په دوئ کي ترويج کيږي څو نظم برقراره وساتل سي ځکه چې د بدنظمه افرادو ټولنه د منابعو لپاره د کالونيسټانو بيپايښته تنده او لوږه نسي ماتولای. ددې لپاره چې د اشغال سوي ټولني وګړي دا نوي کالونيسټي ارزښتونو مجموعه قبلولو ته اړ کړي نو اوږدمهاله جګړه، فقر او بيوزلي باندي مسلطوي. په کالونيانو کي د پناه اخيستلو يا ورسره د ګټور تجارت لپاره د کالوني و ذلت آميزه معنوياتو ته غاړه ايښودل لازمي شرط وي. د يوې خپلواکي ټولني ټولني د رينتوني ارزښتونو توپير د کالونيسټي کاذبو ارزښتونو سره دادئ چې رينتوني ارزښتونه د بشر حيثيت، خپلواکي، شخصي غرور ته اوليت ورکوي او دمادي سروتونو ارزښت ته حدود ټاکي. رينتوني ارزښتونه د يوه وګړي رينتوني مادي اړتياوي ورته ښيي څو د خپل هوس او شهوت د کاذبو اړتياوو په پوره کولو پسي ونه ګرزي او د ټولني په وړاندي د خپلو مسئوليتونو څخه غافل نه سي. د بيلګي په توګه د اسلام په سپيڅلي دين کي د اور، اوبو او وښو پر پلور باندي بنديز دئ. علاوه ددې څخه مسافر ته غذا او سرپناه ورکول، د وږي مړول، د تږي خړوبول، لوڅ ته جامې ورکول، د ضعيف او مظلوم امنيت ساتل د ټولني د عمومي افرادو لپاره د يوه لازم مسئوليت حثيت لري چې د ذکات فرضيت دداغه لپاره دئ. ټولنه او د ټولني اداره کونکي ځواکونه او متنفذين مکلف دي چې دا هر څه وړيا پرته د کوم قيمته و اړ شخص ته ورکړي پرته له دې چې د ټولني داخلي وګړئ وي يا د بهر څخه راغلئ پناه راوړونکئ. يوه ټولنه تر هغه وخته پوري د انحصار لاندي راتلای نسي تر څو چې وګړي يې خپلو دې مسئوليتونو ته متوجه وي. کالونياليسټان ددې لپاره چې يوه ټولنه د خپل انحصار لاندي راولي نو لمړی ځايي متنفذين تشويقوي چې مافياوي جوړي کړي او خپله ټولنه انحصار کړي او هره بشري اړتيا کاخت کړي او هغه ته لوږه بيعه کښيږدي. و دوئ ته د سروتمندي حرص ورکوي. په خپلو کالونيو کي ددوئ د ساعتتيري زميني برابروي او ددوئ د عياشي لپاره هر ډول اسباب تهيه کوي. دا ځکه چې د يوه انحصار کونکي يا د يوې مافيا څخه د ټولني واک اخيستل ډير اسانه دئ چې کيدای سي چې د يوه اندازه زرو په مقابل کي وي. د بيلګي په توګه د اسلامي هسپانيي سقوط و عيسوي واکمنانو ته يا د افغانستان او عراق اشغال د امريکا په لاس. د يوه ولسي نظام لخوا اداره کيدونکي ټولني د نيولو لپاره بايد کالونياليسټان جګړه وکړي. کالونياليسټانو ته جګړه درانه لګښتونه لري خو د يوې خپلواکي ټولني لپاره د خپلواکي دفاع زيات ګران ځکه نه پريوځي چې د هغوئ د جګړې د لګښت زياته برخه د هغوئ د چاپيرياl طبيعت برابروي او ددې څخه علاوه د کالونياليسټانو خپلمنځي سيالئ هم ددوئ سره د خپلي ټولني په دفاع کي مرسته کوي. ددې لپاره چې يوه ټولنه انحصار ته اماده سي نو  بايد و يو شمير داسي کاذبوارزښتونو منونکي سي چې هغه ته مادي بيعه ايښودل اسانه وي. د بيلګي په توګه که د يوې ټولني وګړي د ازدواجي تعلق څخه بهر موقتي جنسي اړيکي ټينګول عيب ونه بولي، د مسکراتو، مخدراتو او دخانياتو استعمال عيب ونه بولي نو دا خلګ به د خپلو جنسي او روحي شهواتو سړول او فيشني ژوند غوره کول دغومره اړين وبولي لکه خپلي حياتي اړتياوي چې عبارت د لزومي حد خوراک، څښاک، پوښاک، سرپناه او د نسل امتداد څخه دي. دا دوګړو کاذبي فيشني اړتياوي، جنسي او روحي شهوات دي چې د خړوبولو افزار او اسباب يې د کالونياليسټانو لخوا چمتو کيږي. دا اسباب اصلاً بشري دامونه دي چې د انسان د خپلواکي د غصب او مريتوب د ځيږولو لپاره کار ځني اخيستل کيږي. انسانان يو د بل په وړاندي د مسئوليتونو څخه باغي کيږي او  يو د بل په مقابل کي د داوطلبانه خدمت روحيه په مطلق ډول دبينه ځي. د هغه ځای حرص او روحي لوږه نيسي او د ټولني وګړي تل په دې سوچ کي اچوي چې څنګه يو او بل سره وشکوي څو زيات پولي مبلغ لاس ته راوړي او دکالونيو په عياشي خانو کي يې بادباد کړي. په پای کي د خوندورو شيبو يادونه ددوئ تر ټولو قيمتي اساسه وي چې ورسره پاتيږي. په دې توګه عام وګړي چې غالب اکثريت دي هيڅ کله د ګوتو په شمير خپلو مشترکو تدريجي قاتلينو محدودو انحصار کونکو د نامشروع واک د ختمولو لپاره نه سي پاڅيدلای. يا که راپاڅي هم، يو موثره منسجم حرکت نه سي رامينځ ته کولای څو د انحصار ځينځيرونه وشکوي. کالونياليسټان به دوئ د اموخته حيوانانو او مرغانو په څير کاروي.

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ